Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library





(c) ketabton.com: The Digital Library



- 
- 
- **رنځور خامار دوهمه برخه**
  - **ليکوال:سيدادريس سادت**
- **کيسه: انتخاب او ژوند يی**
- **دليکوال اثار:**
- **دسپين غر زخمي مرغۍ ناول**
- **دتورخم لار او واده ناول**
- **رنځور خامار لومړی برخه**
- **رنځور خامار دوهمه برخه**

**https://chat.whatsapp.com/KwBk2N7x2EzKdT3L9ENDu9**

**ځانونه مو سادات کتابتون کی اډ کړی او ښکلی کتابونه ولولی**

(c) ketabton.com: The Digital Library



❤🌹پاس لینک باندی کلیک کړی او ځان مو پکی اډ کړی

1. داچی زموږ کتابونه الحمدلله په داسی دور کی هم پوره 25000مینوال لری

- زیات خوشحال یم تاسی او دخپلو زړو مینوالو نه زیاته مننه چی زه مو همایه کړم او زما تر شا ودریدی
- درنځور خامار دناول قیصه دډیرو ورونو خویندو
- دقوی فکر نتیجه ده
- دا تا سی ته دا درخایی چی دنیا بیا هم ختمیدای شی
- که خدای تعالی یی وغواړی خو دا یوه افسانوی او خیالی قیصه ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



- ولی چی موږ ته قران دقیامت وینا کړی پیغمبر ص هم دقیامت وینا کړی نو ځکه دا قیصه هیڅ دریښتیا اړخ نلری خو خو قیصه یی
- زړه راښکونکی او خوندوره ده
- دا داسی یوه قیصه ده چی داسی قیصه تر اوسه یو لیکوال هم نده راخیستی
- اونه به یی هم راواخلی
- رنځور خامار ته ځکه رنځور خامار نوم ورکړل شوی چی انتخای لکه دخامار ضرورور یی خو بیا هم رنځور وی او هیڅ دوسی نهنه وی پوره

(c) ketabton.com: The Digital Library



- ډالۍ!
- ګران ملګری مسیح الله عظیمی ته او حکمت الله صدیقی ته.

- دنړۍ ژوندی نفر چی پاتی وو دری سووه

(c) ketabton.com: The Digital Library



- او اتیا نفر وو نور
ټوله نړۍ ختمه شوه.
- دا نفر خالی
دافغانستان وو...
- چی په دوی کی یو
انتخاب هم وو.
- زنانه ډیری کمی وی اکثر یی نارینه وو.
- ټولو خپل سامان ټول کړل او دانتخاب په
- ګډون ټولو تکل وکړ چی لاړ شی هند ته
- دوی هند ته ددی لپاره تلل ترڅو دکښتیو له لیاری دهند سمندرګي ټاپو
- وزمو ته ځان ورسوی ځکه که چیرته یو انسان په اوبو کی وي
- نو هیڅ ډول شعاع ورته تاوان نشی رسولی ولی چی داټومي
- شعاو جذبوونکی ماده صرف ځمکه ده
- او همدا ځمکه بیرته په وار وار اتومی شاوی
- دانسان سپیړمو ته ورننباسی چی اوله کی یی
- انسان هر ډول معیوبوی او یو څه وخت وروسته یی دمرګ
- په بستر سملوی.
- هماغه وو چی انتخاب دوی دهند په لور روان شو
- انتخاب دهر څه غمه خوړلی وه دوی کولای شول چی
- پخپل ترانسپورت کی په څلرویشتو ساعتونو کی ځان تر
- هند سمندره پوری ورسوی.
- انتخاب او ورسره ټولو ملګرو یی دشعاو ضد لباسونه
- پر تن کړل.
- ټول روان شول مخ پر هند غټ بسونه یی پیدا کړل
- ټوله پاتی دنیا یی پکی ځای کړه او روان شوول مخ پر هند
- په لاره کی هم ورنه دری تنه په حق ورسیدل
- انتخاب دوی ځان دهند په سمندر کی په کښتیو کی واچول

(c) ketabton.com: The Digital Library



په یو نامعلوم سفر باندی رهي •
دی خبری ته یی هیڅ فکر نه وو چی موږ به په سمندر •
کی څه خورو. •
خو روان شول یو څو نفر دلته هم مړه شول •
ددوی د ډلګي نه ټول دوه نیم سوه نفر پاته سول •
نور ټول په حق ورسیدل انتخاب •
دکښتی ډریوینګ په خپل لاس کی واخیست •
په دریاب کی به یی هری خواته حیران حیران کتل •
هیڅ فکر یی نه رسید چی په کومه لاړ شي. •
خو په یو طرف روان وو یو وخت شپه شوه •
انتخاب باندی هم خوب غالبه شوی وو کښتی پخپله په یو مسیر •
روانه وه. •
یو وخت کی دسهار دلمر ترخه وړانګه دانتخاب دمخ په سپین •
پوستکی ولګیده. •
انتخاب په خواږه خوب بیده وو. •
خوب یی خوږ وو خو دغم نه ډک وو •
دا وخت یی هم دخپل ځوی مرګ په خوب کی لیدلی وو دلمر •
وړانګی نه غوښتل چی نور دی پعذاب شي •
او له خواږه خوبه یی ▪
راویخ کړ
سترګی یی دلتې په انداز کی خلاصی کړی •
راپورته شو سترګی یی وموخلی مخامخ یی وکتل ټول نارینه •
او ښځی دکښتی سرته راختلی دي او د یو نوی شي د کتلو په پار •
د واو ناری وهي. •
خه شیبه یی انتظار وباسلو بیا پاسید ورغی ګوری چی په •
سمندر کی نهنګان توپونه وهي •
انتخاب هم یو څه دخوشحالی احساس وکړ ددی منظر نه یی •

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډیر خوند واخیست. ●

داوخت دانتخاب په مخ دزولفو یوه لویه څونکه تیره شوه ●

انتخاب چی مخ ▪

وروا ړاوه د یو بل

حسن په ښکلا کی

غرق شو

انتخاب ته داسی وبریښیده لکه دا انجلی خدای په دی کښتې ●

صرف دانتخاب لپاره ساتلی وه انتخاب د کشتی ټول سړی لیدلی ●

وو خو زنانه یی دخپل شرم لامله نه وی لیدلی. ●

انتخاب غوښتل ددی انجلۍ نوم پیدا کړی. ●

ډیر سرګردانه ګرځیده دا وخت انتخاب زرغونی ترور ولید ●

چی ډیر پریښانه وو زرغونه دحیا ترور وه انتخاب پیژنده خو ●

انتخاب هیڅ یوه ښځّه نه وه لیدلی. ●

نو ځکه یی زرغونه هم نه وه لیدلی ●

زرغونی له انتخاب نه وپوښتل:انتخابه ځویه دا انجلی چی ته ورته ●

ډیر ګوری زما لور ده مجرده ده ما خو په پآتی خلکو کی داسی ●

څوک پیدا نکړ چی دا ورته په نکاح کړم خو ته چی می وکتلی ●

ستا نه بغیر راته هیڅوک هم خه خکاره نشو ولی چی یو خو تعلیم ●

یافته یی اوبل دینداره او امانداره یی. ●

نو غواړم دا خپله لور تاته په نکاح کړم ایا ته به یی راسره ومنی ●

انتخاب ورته وویل: ستا ټولی خبری پخپل ځای خو ددی انجلی ●

نوم خو راوخایه زرغونی ترور ورته وویل چی نوم یی صنم دی ●

خلکو به په کلی کی ورته صنم جانه ویله ډیری مرکی ●

راباندی راغلی خو نن به یی راباندی مرکه وکړه سبا به هلک مړ و ●

انتخاب ورته وویل: ته رازه تروری کښینه ټولی خبری خو په ولاړه ●

نه کیږی ●

زرغونه کښیناسته حکمت بیا ورته وویل:خا ترور نور څه وایه ●

(c) ketabton.com: The Digital Library



- کنه زرغونی بیا ورته شروع وکړه خو انتخاب
  - په یی ببولالو ته غوږ
نه نیوو
  - صنم او انتخاب یو بل
خوخ شول او غوښتل
یی چی واده یی ژر
ژر
- وشي په کښتۍ کی ملا صاحبان هم  وو خکلی واده یی وکړ کښتی په نامعلوم سفر روانه وه دوی پوره  یوه میاشت په سمندر کی مزل وکړ
- خوراک به یی ماهیان  ول
- خام خام به یی خوړل
- ددوی هم نوره ګوزاره په سمندر کی ګرانه ووه ځکه چی څو څو ځله
- یی کښتۍ سمندری طوفانونو په هوا کړه.
- خو خدای بچ کړل نور نو غوښتل چی یو څه وخت لپاره وچی ته ووزی
- خو دانتخاب ورسره خوخه نه وه
- ځکه چی هغه پوهیده که چیرته کیښتی وچی ته ووته
- نو یو هم ژوندی نشی پاتی کیدای
- خو خلکو ورته ویل چی باید یوه لاره ولرو اخر تول ژوند خو په دی کیښتی کی نشو تیرولای انتخاب فکر کی شو ذهن
- ته یی یوڅه راغلل کله چی انتحاب  دماین پاکۍ په موسسه کی وو نو
- امریکایانو یو شیز ورکړی وو
- چی په هغی سره دی په هره دشته کی خپل ځای معلومولای شو
- زر ولاړ او هغه یی راواخیست چی ویی کوت نو نوم یی پری
- لیکلای وو لوکیشن دی لوکیشن له اوبو څخه پاک کړ بیا یی ولګاوه
- هر کله چی ولګید نو دیته یی پوره نقشه راواخیسته
- دی لوکیشن به غټی بالتی خوړلی
- انتخاب په سره علامه زور وکړ

(c) ketabton.com: The Digital Library



- هغه ځای رانږدی شو هو به هو
- دهمدوی ځای وو
- حکمت شاوخوا وکتل په لری ساحه کی ورته یوه ټاپو وزمه په نظر ورغله
- چی دا ټاپو وزمه خالی ځنګل و یو وړوکی غر وو او نور
- ګرچاپیره ورنه سمندر وو
- انتخاب صنم ته وویل چی دغه ځای ته به ځو انشاالله
- صنم او نورو ټولو خلکو هم ورسره ومنله
- دا هغه ځای وو چی په ژمي کی پکی انسانانو ژوند نشو کولای
- خو داوړی لپاره خه مناسب ځای وو.
- انتخاب دوی دافغانستان نه چی روان شوی وو
- نو ژمی وو
- خو تر دومره ډیر سفر څخه وروسته اوړی رارسیدلی وو .
- انتخاب دوی هم خوشحاله وو چی خدای ورته خه ځمکه ورکړه
- خو بیا یی یو ذهن ته یوه خبره راغله چی داسی نه
- په دی ځمکه کی هم شعاعګانی راغورځیدلی
- دکښتی د ټولو ګډونوالو سره یی دا خبره شریکه کړه
- خو هغوی ورته وویل چی موږ دخپل ژوندی پاتی کیدلو
- لپاره هر ډول خواریانی وکړی بیا مو چی هم خدا ختموی په
- دی کی به هم دخدای  راز وی ټولو پر الله توکل وکړ او نوی سیمی ته روان شول.
- دامهال په کښتۍ کی نه نوی زنانه وی او یو نیم سل سړی وو
- چی دچا به میرونه مړه وو او دچا بیبیانی انتخاب ښکلی
- طرحه درلوده خو په بیره کی دیته وو چی ټاپو وزمی ته ورسیږی
- دا ټاپو وزمه دهند او انګلستان په منځ کی خو ددریاب په غاړه پرته وه
- چی دځمکی هر طرف یی دمثلث په شکل نیوه
- مطلب هند او انګلستان ته یو رقم فاصله وه خو مخامخ سیمی ته یی

(c) ketabton.com: The Digital Library



- ددی نیمایی فاصله وه.
- پوره دپنځلس ورځی مزل څخه وروسته
- دوی دی ټاپو وزمی ته ورسیدل په کښتۍ کی یی
- پوره دوه نیمی میاشتی تیری کړی وی
- او دوه نیمی میاشتی یی خام کبان خوړل چی په دریاب
- کی خه پریمانه وو.
- هر کله چی دوی د کښتۍ څخه کیوتل
- نو د خوشحالۍ څخه یی داسی ټوپونه لکه ماشوم
- چی مور پریږدی تر څو خپلی لوبی دځان خیرنولو سره وکړي
- ریشتیا چی هم د خوشحالۍ ځای وو
- دډیر وخت وروسته یی ځمکه لیدلی وه.
- پدی غر کی بغیر له حیواناتو او ژورو جهیلونو څخه هیڅ هم نه و
- خو یو مشکل و هغه دا چی داوړي په موسم
- کی هم پکی سخته یخني وه
- دوی سره داسی هیڅ نه وو چی خپله یخنی پری
- ختمه کړی
- انتخاب اول ټولو ته امر وکړ چی دونو نه دی پاڼی راوشوکی
- په دی سیمه کی یی د زنانه وو
- ▪ ټول مسولیت د صنم
- پر غاړه ورواچاوه
- دانتخاب پلان دا وو چی دا خلک باید تر ډیره وخته همدلته پاته سی
- او باید خپل ژوند ته دوام ورکړی.
- دټولو ونو نه یی پاڼی راوشکولی او لکه دځنګلیانو په شان
- برستنی یی ورنه جوړی کړی
- اوله شپه خو ټولو ډیره په سحته تیره کړه انتخاب هم دغره پر سر ناست
- وو د تیږی په کندولی کیی یی تړمی اوبه څښلی هوا

(c) ketabton.com: The Digital Library



- ډیره یخه وه .
- دښولی نه به یی یو نیم پر پرک هم راواته
- دی چی لاندی خلکو ته کیتل نو سخت زوریده
- دسمندر چپی چی به راغلی نو دی فکر
- کاوه چی لکه لاندی یی کړو خو اخر کی به چپه ورکه شوه
- تابه ویل که هیڅ هم ندي
- لاندی راکیوت په رڼو اوبو کی یی اودس وکړ
- پآس یی خپل کمیس وباسلو او پری ودرید
- دماسخوتن لمونځ یی ادا کړ
- کلاری سر یی کیښود
- خو خوب نه ورته سخته یخنی وه
- خو دشپی ناوخته دیخنۍ سره لګ لګ اموخته شوی  او ویده شوی وو.
- سهار کی لمر خه په غړ غړه وو په دوی  تیز لګیده
- خو تاثیر یی وربِاندی نکاوه
- ځکه چی یوه خو یی شپه خه یخه تیره کړی وه او بل
- دا ځای هم ډیر یخ وو
- انتخاب له خوبه پاسید سترګی یی وموښلی
- ګوری چی صنم یی مخی ته ولاړه ده
- او خاندی ورته
- انتخاب ورځینی وپوښتل :څنګه خووشحاله یی نن خیر خو دی
- صنم ورنه مخ واړاوه په تونده لهجه یی  ورته وویل یو خو ته هم
- هر وخت به دی بوتاڼ پرسولی وي
- یوه ورځ دی  هم راته دمینی خبره ونکړه
- انتخاب وخندل :ههههه
- زه خو تاسره وس هم دمینی خبری کووم
- بیا یی دملا نه لاس تاو کړ ځانته یی رانږدی کړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



- ورته ویی ویل ګرانی زموږ په قسمت کی نه هم دخوشحالئ په
- نوم څه شته اونه هم دمینی په نوم
- یو دم دلاندی خوانه غوغا جوړه شوه
- انتخاب صنم ته وویل ته همدلته کینه زه راځم
- انتخاب چی لاندی کیوت ګوری چی
- سمندر رقم رقم ستوری خپل ساحل ته راوړی دي
- انتخاب سخت خوشحاله شو
- ددی منظری نه یی سخت خوند واخیست په منډه لاړ صنم پسی
- هغه چی سمندری ستوری وکتل دډیری خوشحالی نه یی په خوله
- لاس کیښود
- سمندری ستوری یو رقم
- سمندری ځلا لری چی دهرچا دخوښی وړ ګرځی
- صنم دبیولوژی په کتاب کی لوستی وو وو
   - که چیری سمندری
   ستوری په لږه موده
   کی سمندر ته وانه
- چول شی نو هغوی به
- خپل ژوند له لاسه ورکړی
- نوځکه یی شروع وکړه اوسمندری
- ستوری یی بیرته سمندر ته اچول
- انتخاب ورڅخه وپوښتل چی که دا ټول مړه شي یا ژوندی
- شی موږ ته یی څه فایده اوتاوان رسي
- صنم یو ستوری راواخیست او ویی ویل:
- موږ ته یی فایده او تاوان نه رسی
- بیا یی ستوری سمندر کی واچاوه او ویی ویل :
- خو دی ته یی فایده ورسیده
- بیا یی ټولو ته وویل تاسی چی خپله کورنی پلار هر څه مو

(c) ketabton.com: The Digital Library



- له لاسه ورکول
- څومره ژړا ګانې او څومره ویرونه به مو کول
- ایا ستاسی به په چا پیرزو شی
- چې هغوی  دی هم داسی ویرونه وکړی ټولو وویل نه نو
- ویی ویل دا سمندری ستوری
- سمندر ته واچوی.
- تر څو یو بل مخلوق زموږ پشان
- درد ونه ګوری ټولو په یو اشر شروع وکړه اوپه ډیر کم

- وخت کی یی ټول ستوری سمندر ته واچول
- انتخاب د غره هره خوا وکتله غټ ځای
- و بیا یی خلک راغونډ کړل ټولو ته یی
- په غر کی یو یو ځای مشخص کړ.
- ټولو دتیږو په ضریعه ورڅخه کرښی تاوی کړی
- انتخاب ورته وویل چی تاسی ټولو ته خپل خپل ځایونه
- درورسیدل
- سر داوس نه پری کار شروع کړی سمندر هر رقم
- خاوره راوړی او تیږی په غر کی شته
- غر ډیر پراخه وو
- دومره ووو لکه جلال اباد کی چی له چوک مخابرات نه
- چوک تالاشئ ته ځی
- ډیر ځای وو
- او بیا خاسکر ځنګل وو
- ټولو خلکو په خپلو ځایونو کار شروع کړ.
- انتخاب هم له خپل ځای څخه چهاردیوالی تاوه کړه
- او صنم هم ورسره پوره پوره کومک وکړ

(c) ketabton.com: The Digital Library



خلکو ځانونو ته ګډ وډ کورونه جوړ کړل ●
اوخپل ژوند یی پکی شروع کړ ●
خواږه یی هماغه خام ماهیان ول ●
شپه شوه دغره هری خوا ته تیاره خوره شوه ●
انتخاب دوی په دی شپه هم داغوستلو څه نلرل ●
انتخاب خپل غم کی نه وو ●
خو په صنم باندی یی یخنی نه پیرزو کیده ●
داشپه انتخاب دصنم سره پوره تر ناوخته پوره ویخ ●
وو ځکه چی یخنی وه ●
خو په اخر کی یی یو بل نه لاسونه تاو کړی اوویده ●
شوی وو ●
انتخاب په خواږه خوب ویده چی امام صاحبانو په اوچت ●
اوازدلومړي ځل لپاره ▪
دسهار اذانونه وکړل
سترکی چی یی پرانیستی ګوری چی ●
صنم ناسته ده ځانته رانجه کوی ●
صنم چی ولیدل چی انتخاب راویخ شو ●
نو ورمنډه یی کړه په غاړه کی یی ورته لاسونه واچول ●
ورته ویی ویل چی ●
انتخابه زه نن غواړم تاته یوه خبره وکړم ●
هاغه داچی ●
زه امیندواره یم زما کوچنی ●
دانتخاب دخوشحالۍ نه یی ویختان نیغ ●
ودریدل ●
بیا یی منډه ټول کلی ته یی داخبر ورساوه ټول ●
ډیر زیات خوشحال شول ځکه چی ●
که انتخاب ماشوم وشو نو همداسی به سلسله جاری شی ●

(c) ketabton.com: The Digital Library



او که خدای یی وغواړی پخیر نو دراتلونکی نړی خلک به ●
افغانان وي ●
امریکا او روس ډیره هڅه وکړه تر څو ●
په نړی حاکم شی ●
خو ګټه بی طرفو خلکو وکړه ●
ریشتیا چی هم ددی نړئ مالک خدای ج ●
دی چاته چی یی خوخه شی ورکوی یی دانړی ●
اوچاته چی یی خوخه شی سره دژونده یی ورنه اخلي ●
انتخاب دوی ټولو په یو اواز په دی ځای باندی ●
د اریانا نوم کیښنود ●
خلکو د ټولو ونو پاڼی راوشکولی ●
انتخاب زیاتی خلکو ته دا وظیفه ورکړه چی ●
هغوی باید دپاڼو نه هر ډول جامی جوړی کړی ●
او ژوند هر ډول داړتیا وړ شیان جوړ کړی ●
یو څه قاریانو ته یی جومات جوړ کړ . ●
خلک به ورتلل خپل ▪
لمونځ او اودس به
یی پکی کول
څه خلکو ته یی دکورونو جوړولو وویل چی هغوی باید ●
خلکو ته کورونه ترمیم کړی ●
خو زیات خلک یی دی ته وقف کړل تر څوباغ داری وکړی ●
ځکه چی دا ډیره مهمه برخه وه ●
مطلب ټولو خلکو ته یی خپلی دندی وروسپارلی ●
تر څو دخلکو زړه هم تنګ نشي ●
او ژوند هم مخ پر وړاندی لاړ شي . ●
دیو څه وخت څخه وروسته دانتخاب ځوی هم وشو ●
داسی فکر یی کاوه چی دهیڅ شی کمی هم نلری ●

(c) ketabton.com: The Digital Library



- خو خالی یوی خبری یی زړه خفه کولو
- هغه دا چی مور اوپلار یی نه وو خو بیا هم ناشکره
- نه وو.
- باغوانانو خپل کار شروع کړ.
- هری خوا ته یی تخمونه وشیندل
- دخدای په فضل سره په میاشت کی دننه دننه یی بوټی ونیول
- او را په غټیدو شو هر سهار دساحل ننداری دهر چا پام خپلی خوا
- ته اړولو.
- دوی دامهال هم خام ماهیان خوړل
- غټ ارمان یی دا وه چی یو ځل پاخه ماهیان هم وخوری
- دټکنالوژۍ ټولو وسایلو کار پریخی وو
- په وړوکی ښار کار روان شو.
- انتخاب دا ځای دوړوکی ښار په نامه ونومولو
- ټول خلک یی راجمع کړل ورته ویی ویل چی یو څه مراسم باید
- ونیسو ځّکه چی نوی ښار هم جوړ سو.
- او باید بی نکاح نفر ټول نکاح وکړی
- ټولو خلکو ورسره ومنله یو خوندور او شانداره پروگرام
- جوړولو ته یی تیاری شروع کړ
- دساحل غاړه ټولو خلکو په یو اتفاق لکه دورونو پشان پاکه کړه
- هغه پوهان ریشتیا چی نفاق اچوونکی تل مری او داتفاق نه ډک
- انسانان
- تل پاتی وي .
- ددریاب غاړه کی یی دغره رنگارنگ تیږی د دی لپاره چی خایسته
- ښکاره شی کیښودی .
- ټولو انجونو پیغلو او زړو ځانونو نه ناویانی جوړی کړی
- سړی هم همداسی دغریبی یو شانداره واده یی وکړ.
- دا مهال دواده دنعمت نه ټول برښمن شول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا مهال واده هم یوه نیکمرغی وه چی ډیر بغیر ددی ثواب څخه •
قبر ته تللی وو خو دوی واده کوی . •
لا هم ثواب ګټی او لاهم دتوبی دروازی ورته خلاصی دي. •
په همدی ورځ د ټولو ودونه وشول خالی دیو کس واده ونه شو. •
ګرانو لوستونکو تاسی ویلی شئ چی هغه څوک وو •
یو ځل پری خه فکر وکړی بیا نوره برخه ولولی . •
دا نفر انتخاب او صنم وو ولی چی ددوی واده اول نه شوی •
او یوځوی یی هم درلود. •
عجیبه وه داسی واده چی په یو ځل سره دومره ډیری جوړی یوځای •
شی خو وشوه ددوی په خپلو ځانونو باندی دهیڅ شی •
خطره هم نه لیدله . •
انتخاب دخپل ژوند دهر یو یاد په لیکونو سخت تنګ شوی وو •
ځکه چی بغیر دخفګانه یی هیڅ هم نه وو لیکلی خو داځلی •
یوه پکی دخوشحالی خبره هم ولیکله . •
ټولو خلکو واده وکړ •
ټولو بی غمه خپل ژوند شروع کړ •
ژمی په رانږدی کیدو وو •
ټولو خلکو غوښتل چی بیرته افغانستان ته لاړشي •
انتخاب ورسره ماوافق نه وو خو خلکو ورته ویل چی •
نور دلته ژوند نشو کولای •
دا ځای نور زموږ لپاره زندان دی •
انتخاب فکر کاوه لکه داخلک لیونی شوی دی •
ځکه چی دوی به په هند څنګه تیریږی او بیا افغانستان •
کی خو هم مرګ مرګ دی •
خو اصلی خبره بل څه وه . •
دا ځل انتخاب یو سره هم نه منله خو ټولو مشری •
دانتخاب نږدی ملګری ساحل ته درکړه دهر سړی یو یو ماشوم شوی و •

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټول دوه کلن ماشومان ول. ●
یوازی دانتخاب ځوی افتخار چی مخکی پیدا شوی وو ترټولو لوی و ●
انتخاب ددی لپاره چی پخپل پخوانی ●
ځوی پسی خفه نشی پدی هم نوم افتخار کیښود ●
ساحل ټول نفر سره دانتخاب او صنمه د ساحل څخه ●
روان کړل ●
اوی ټولو دا ځل غوښتل چی خایسته سفر ولری ●
خو انتخاب ورته حیران وو ●
انتحاب یی په زوره راوچت کړی وو. ●
انتخاب ته هم ژړا ورتله هم خنداړ ●
ساحل به ورته ویل چی یاره څه خبره ده چی ته یی داسی ●
خواشینی کړی یی. ●
هغی ورته ویل چی ګوری نه مرګ ته دی ●
روان کړی یم او وایی چی خواشینی یی . ●
څنګه به نه خواشینی کیږم ●
ساحل ورپوری وخندل : ~~ههههههههههههههههههههه~~ ●
~~ههههههههههههههههههههههههههههههههههههههههههههههه~~ ●
~~هههههههههههههههههههههههههههههههههههههههههههههه~~ ●
نور یی هم ډیر وخندل ههههههه ●
ورته ویی ویل یارو زما درسره وعده ده ●
انشاالله په دی یو انسان هم څه نه کیږی ●
دا خبره می واوره یو کار هم دانسانانو په خوخه ●
نه کیږی . ●
ټول کارونه الله تعالی کوي . ●
او انشاالله چی موږ به هم الله تعالی ساتی ●
دانتخاب غم پدی خبرو ډیر کم شوخو بیا هم مرګ مرګ وی ●
درد یی د ورکیدو نه وي ●

(c) ketabton.com: The Digital Library



- انتخاب په کیښتی کی لړزی نیولای وو.
- صنم او افتخار ته سخت خفه وو
- خو روان ول
- ځان سره یی داوبو
- یو پتک هم وړی وو.
- دسمندر په یخه هوا کی یی سخته یخنی شوی وه
- پتک یی دخپلی غوټی نه راوویست
- دوه دری خوندور ګوټونه یی ورنه وکړل
- بیا یی خپله دیادونو کتابچه راواخیسته.
- ه پکی یی ولیکل:
  - پلار می وفات شو
دومره درد
- می ندی لیدلی مور یو خوږ ځوی او دحیا په شان بی بی می
- دلاسه ورکړه دومره نه یم
- غمجن شوی
- خو نن دومره درد راباندی تیر شو لکه یو لس ځله چی مړ
- شوی او بیرته ژوندی شوی
- یم
- یو دم یی دصنم اواز واورید
- ویل یی زه خو یم کنه .
- راغله انتخاب نه یی پوښتنه وکړه.
- انتخابه:ایا ته فکرکوی تا خپل ځان خپله ساتلی په
- دومره خلکو کی
  - انتخاب سر ځوړند
نیولی و.
- او صنم هیڅ جواب هم وانه ورید
- بیا یی وویل: که چیرته ته دومره زوروور یی خپل

(c) ketabton.com: The Digital Library



مور اوپلار حیا او افتخار به دی ژغورلی وو کنه ●
انتخاب سر راوچت کړ یو ځل یی صنم ته وکتل بیا ●
یی سر وخوځید. ●
صنم بیا ورته شروع کوله خو انتخاب پری تیز شو ●
او ورته ویی ویل: ته فکر کوی زه لیونی شوی یم ●
صنم خدای تعالی موږ نه ځان راکړی اودا یی هم ●
راته فرمایلی دی چی ●
ددی ځان ساتل پر تاسی فرض دي ●
که چیرته مرو نو کم از کم دژغورلو هڅه خو باید وکړو کنه ●
صنم ●
ماته حیا دا قسم راکړی چی هیڅکله هم ماته ونه منی ●
نن زه سنګه ماته ومنم ها ●
زه خو فکر کووم چی نن خو ●
یا دا خلک لیونیان شوی ●
او یا هم زه لیونی شوی یم ●
انتخاب نوری هم زیاتی خبری ورته وکړی خپل زړګی یی ●
خه پوره ورته تش کړ ●
په همدی کی پری تیاره راغله اوشپه شوه ●
ځپل اته رکعته لمونځ یی ادا کړ. ●
انتخاب اوبو ته وکتل ●
ګوری چی داسمان ټولو ستورو په اوبو کی خپل منظر جوړ کړی وو ●
انتخاب ځان سره فکر وکړ ●
ستوری په اسمان کی دی ●
خو دخدای تعالی قدرت یی موږ ته په ځمکه کی ●
ښکاره کوي ●
نو زما ژوند هم دخدای تعالی قدرت کولای شی چی ویی ●
ساتی . ●

(c) ketabton.com: The Digital Library



- صنم یو ځل بیا ورته راغله انتخاب ورته وویل بیا څه وایی
- ویل یی یوه خبره کوم انتخاب  وویل څه:
- ورته ویی ویل : یو ځل اسمان ته وګوره انتخاب وکتل بیا یی ورته
- وویل
- وس ذهن کی د څو ځانیو لپاره داراوله چی هیڅ غم نلری
- تیر او راتلونکی بیخی هیر کړه دکښتی
- کونجونو ته وګوره
- څوکو ته یی وګوره
- یو څو ځانیی دراحت احساس وکړه  اوبیا خه په
- خوندور خوب ویده شه
- داژوند دی دیوی ځانیی نه چی یی هم خوند واخلی انتخابه
- ته غټ شتمن سړی یی
- وس نو نننۍ شپی دخوب نه خه خوند واخله
- دنن خدای مو سبا ته هم شته
- انشالله چی هر څه به سم شی
- انتخاب خه په خواږه خوب ویده سو.
- سهار ساحل په منډه دانتخاب خواته راغی ورته زیری یی
- ورکړ .
- انتخاب لالا مبارک شه موږ راورسیدو
- انتخاب یوځل بیا دغم څپو ونیو
- چی منډه یی کړه لاندی
- ګوری چی سیده یی کښتی دایران په
- لاره راغلی
- او افغانستان ته ننوتی
- انتخاب نه دا لاره بیخی هیره وه.
- دخوشحالی نه یی صنم ته کلکه غیږه ورکړه
- هغه یی وچته او بیرته څمکه ته ښکته کړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



- ساحل یی دوه خه کلکی سپیړی کش کړ
- ورته ویی ویل: په ما دی مرګ تیر کړ خو خکاره به دی
- راته ویلی وو کنه
- ساحل ورته وویل: یارو که ښکاره می درته ویلی وی کنه
- بیا دی ولاکه دومره خوشحالی کړی وی
- ټول کلی یی دا خبر ی واوریدی
- او انتخاب ورته وویل ایا تاسی ټول د ساحل سره
- وی
- هو تا ځانته زموږ نه مخکی واده کړی وو
- نو موږ غوښتل چی دهغی بدل درنه واخلو
- هههههههههههههههههههههههههههههههه
- انتخاب دخندا تک شین واوښت
- بیا یی ورته وویل: افغانان یی کنه دواده باره کی کله خلک معاف
- کوی
- بیا دخندا نه تک شین واوخت
- دا ځل ورسره ټولو وخندل
- هههههههههههههههههههههههههههههههههههههههههههههه
- ساحل انتخاب ته وویل : انتخاب یارو
- یوه خبره مو بله هم درنه پټه کړی
- ټولو مشرانو ورته وویل مه یی کوه خو داساحل
- دخولی نه وتلی وه وس نو انتخاب کله پریخودو
- خو خبره یی ورته ونکړه
- انتخاب په افغانستان کی خپل کور ته ولاړ
- هر څه پکی د پخوا پشان هماغسی پآک صفا ایخی وو
- انتخاب سخت حیران شو.
- چی یو ځای کی دی هیڅوک نه وی
- او په کور کی یی ټول وسایل پاک صفا ایښی وی

(c) ketabton.com: The Digital Library



- ټولو خلکو خپلې ناوياني کورونو ته بوتللی
- انتخاب هم صنم تر خپله لاسه ونیوله
- او خپل کور ته يې راوستله
- صنم ډيره خوشحاله سوه
- د يو څه وخت وروسته دباندی په کوسه کی بد بد غږونه
- واوريدل شول
- انتخاب دصنم دخوا نه پاسيد ولاړ
- تر څو معلومه کړی
- چی داهر څه څه وه
- هر کله چی ورغی
- هر کله چی ورغی يو تک تور سړی بيرون
- ولاړ دی
- چيغی يی وهلی
- انتخاب چی وکوت حيران شو
- تر اوسه يی داسړی په کلی کی
- نه وو ليدلی
- سړی يی يوه کلکه سپيره په مخ وواهه
- بيا يی غاړی نه ونيو ورته ويی ويل: ته څوک يی ها
- تور سړی ورته سخت په قهر شو .
- ټول کليوال راټول شول
- ګوری چی تور سړی يی سخت ټپی کړی دی
- کليوالو تور سړی دانتخاب دلاسونو نه خلاص کړ
- انتخاب دټولو نه وپوښتل داڅوک دی تاسی ولی ما په جيريان
- کی نه اچوی چی يو څه کوی .
- کليوالو انتخاب خه په ارامه يوی غاړی ته بوتلو
- بيا يی ورته ټوله خبره وکړه
- ورته ويی ويل : ګوره انتخابه دا خلک ټول ځنګليان دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



- دوی به په کال کی یو واری تلل یو ټاپو ته چی د
- انګلستان سره نږدی دی دوی دشعاو په وخت کی
- تللی و هغه ټاپو ته او زموږ پشان خدای دوی
- هم ژوندی پاتی کړی.
- هر کله چی موږ په نوی ښار کی اوسیدلو
- دوی افغانستان کی وو
- دوی هم لکه زموږ پشان فکر کاوه چی په دنیا کی
- هیڅوک پاتی ندی خو یوه ورځ ددوی دډلی نه
- یو نفر راغی په کښتی دسمندرڅپو
- تر موږ راورسوو.
- دهغی موږ قدر ډیر وکړ او ستا لوکیشن مو ورته ورکړ
- تر څو خپله لارخه لاره پیداکړی
- انتخاب پوښتنی ته خوله جوړوله ساحل ورته وویل
- انتخابه پوهیږم دا پوښتنه کوی چی
- لوکیشن چا درکو
- هو
- ساحل ورته وویل :ستا له کور څخه افتخار موږ ته لوکیشن
- راوویست .
- انتخاب بیا وپوښتل :نو دوی افغانستان ته ولی راغلی ایا
- کوم بل ځای یی پیدانکړ.
- ساحل ورته وویل:یاره انتخابه ستا لکه دیاده ووتل دلته شعاوی
- کمزوری استعمال شوی وی ،
- انتخاب وچت شو دروازه یی کلکه په سوک ووهله
- بیا یی ساحل ته وویل : نو ساحله ته دومره نه پوهیږی چی
- ددنیا په سر ټوله دنیا ختمه شوله
- ایا ته داسی فکر کوی هغوی به تاسی ته خه راغلاست ووایی
- نا هغوی تاسی دلته دهمدی لپاره راغوښتی یاست

(c) ketabton.com: The Digital Library



- تر څودنیا ورته پاتی شي .
- انتخاب چی داخبره کوله ګوری چی ددوی په ملګرو دهری خوانه
- دتوریانو یرغل وشو.
- څوک یی ونه وژل خو پنځلس نفره یی
- زخمی کړل.
- دوی ته یی سخته ویره پیداکړه
- انتخاب ورته نور هیڅ هم ونه ویل
- ځکه چی ضرر یی پخپله وکوت
- انتخاب ځانته دلرګی نه یوه ښکلی لیندۍ جوړه کړه
- خپلو ټولو ملګرو ته یی وویل چی خپلی زنانه دی
- په کښتی کی واچوی ترڅو هغوی تر نوی ښاره بیرته خپله
- ځان ورسوی
- بله خبره یی ورته داوکړه چی بی غیرته
- اومنافق شخص موږ ته پکار ندی
- که څوک بی غیرته وی
- اوټول عمر یی دابۍ په غیږه کی تیر کړی وی
- هغوی دی هم کښتی کی کښینی تر څو لاړ شی او ویی ویل
- ورته چی موږ به دلته کار ختم کړو او موږ هم درپسی درځو
- بیا مو بیرته راولو
- انشالله
- ټولی زنانه په کښتی کی روانی شوی
- سره دخپلو ماشومانو
- انتخاب کښتۍ ته دغم په سترګو کتل
- خو څه یی نشول کولای
- ځکه چی باید همداسی وکړی
- انتخاب ټولو ته امر وکړ پخپلو ځایونو محکم
- اوسی هر وخت ددښمن دبرید چانس شته

(c) ketabton.com: The Digital Library



- زه به یوساعت وروسته ولاړ شم
- او دښمن ته به دسولی وړاندیز وکړم
- انتخاب ولاړ خپله سپیره کوټه کی یی یوه
- زړه کتابچه راواخیسته
- ویی سنډله.
- دوړی یی لاندی پریوتی بیا یی خلاسه کړه
- دغه دردونکی حالت یی هم پکی ولیکو
- لاندی یی ولیکل :شکر دی هغه خلک دباسی
- چی په ارامه یی خپل ژوند تیر کړی او
- شوی
- ددومره مشکلاتو تیرولو نه بغیر ورته جنت واجب شوی
- وی
- په ارامه یی خپل ژوند تیر کړی وی.
- په ورځ پنځه وخته لمونځ یی کړی
- او داسلامی نظام دچتر لاندی یی ژوند کړی وي.
- هغه خلک باید هزار بار شکر وباسی
- بیا یی دیاداښتونو کتابچی اول سرونه راواړول
- خپل یو یو درد یی هم مطالعه کړ او خپله خوشحالی یی هم
- مطالعه کړه
- ددواړو په لوستلو یی خوشحالی هیڅ
- درد او خو خاطرو دواړو نه یی خوند واخیست
- انسانان تل داسی دی که چیرته پری سخته نه وی
- نو دخپلو دردناکو واقعو نه هم خوند اخلی
- دبل واقعه خو لاسه کوی
- انتخاب ولاړ تر څو دښمن ته دسولی وړاندیر وکړی
- هر کله چی ورغی هغوی هم ډیر تنان نه وو
- انتخاب ورته دګونګیان په ژبه دسولی وړاندیز

(c) ketabton.com: The Digital Library



- وکړ
- خو هغوی پری راتول شول
- تر څو ویی وژنی
- انتخاب یی مشر راونیو
- دلیندی تیره سر یی ورته په مری کیښود
- په اشارو کی یی پوه کړل
- خو هغوی دخپل مشر په غمه کی نه وو
- انتخاب یی ورته مشر وواژه
- ټول پر انتخاب راټول سول
- انتخاب یی سحت وواهه
- خو دا چی ساحل هم هوښیار هلک وو نو
- په انتخاب پسی یی
- اول نه نفر لیګلی وو
- تر څو په سخت وخت کی ورسره مرسته وکړی
- خو دهغوی هم پری زور ونه رسید
- هغوی ټول یی ووژل
- اوانتخاب یی بندی کړ
- دشپی په دولس بجی انتخاب
- ساتونکی ته وویل چی زم تشناب ته
- ساتونکی چی راوویست سم یی وواهه
- اوخپله تری نه راووت
- دباندی یو ساتونکی ګرځیده
- انتخاب خوندوره موقع تر لاسه کړی وه دلاسه یی نه ورکوله
- ډیر پَه احتیاط سره تر دی ځایه ووت
- هرکله چی خپل ځای ته ولاړ ټول ویده ول
- ټول یی پآسول
- ورته یی وویل چی دخوب وخت ندی

(c) ketabton.com: The Digital Library



- دا خلک سوله نه منی باید چی په زور یی پری ومنو
- ساجد واجد او غفران یی زما مخکی ووژل
- ساحل انتخاب ته وویل چی انتخابه داخلک خو نه پوهیږی
- موږ ولی ورسره ځانونه احمقان کړو
- خوخه دی نده چی سبا موږ هم خپلو زنانه وو پسی
- نوی ښار ته ولاړ شو.
- او خپل ساده ژوند وکړو
- انتخاب ورته وویل: مشوره خو دی خه ده خو زه به پری یو
- ځل سوچ وکم بیا تاته احوال درکووم.
- انتخاب پریکړه وکړه چی سبا به دوی هم زی نوی
- ښار ته نن شپه خه په خواږه خوب ویده شول
- سهار چی انتخاب راپاسید
- ګور ی چی ویر جوړ دی
- هر سړی خفګان کی دی
- دیو چا نه  یی پوښتنه وکړه چی څه چل دی
- ورته ویی ویل :
- ټولی زنانه یی وژلی دی
- انتخاب منډه کړه په کښتی کی لټ په لټ ګرځیده
- اخری سیټ کی صنم مړه پرته
- //////////////////////////////////////////////////////////////////
- V////////////////////////////////////////////////////////////////
- \\\\\\\\\\\\\\\\\\\\\\\\\\\\\\\\\\\\\\\\\\\\\\\\\\\\\\\\\\\\\\\\\\
- //////////////////////////////////////////////////////////////////
- سخت حالت وو   ///////////////////////////////////////////
- دا ځل نو انتخاب هیڅ حوصله نه لرله
- خپل قسمت یی سخت ورټو
- بیا یی لیندی واخیسته سیده ولاړو

(c) ketabton.com: The Digital Library



- خو ساحل راونیو
- ساحل ورته وویل :یارو صنم لیکل درته کړی هغه ولوله
- انتخاب لیکل راواخیستل
- لیکلی وو
- انتخابه ما او ټولو زنانو سره هیڅ ډول ظلم ندی شوی
- صرف یو ځو یی وژل شوی یو.
- اوبس
- ما افتخار په دریاب کی واچوو
- که چیرته خدای یی ساتی نو

هغه هم ددوی ټولو دپاره بس دی
- ستا صنم
- انتخاب سخت خواشینی شو
- ټول لاړل او پ ء دښمن یی برید وکړ
- ددښمن ټول فوز یی ختم کړ
- خو دوی ددی نه خبر نه وو چی سمندر کی بلی ډلی
- صنم دوی وژلی .
- او کښتیو کی کښیناستل
- تر ځو ځان نو ښار ته ورسوی
- خوپه سمندر کی پری برید وشو
- دوی خه په سم ډول وجنګیدل
- اوبیا هم کامیابی خدای همدوی ته ورکړه خو
- انتخاب یی دلاسه ورکړ
- انتخاب دبهری ځواک

لامله ووژل شو
- اونوی ښار ته ژوندی نفر
- دری تنه ورسیدل ،

(c) ketabton.com: The Digital Library



- ////////////////////////////////////////////////////////////////////////////////////
////
////////////////////////////////////////////////////////////////////////////////////
////////////////////////////////////////////////////////////////////////////////

- تسکین یی کتاب ختم کړ سخت یی وژړل اوخپل قوم ته یی اوس
- دیو کتاب په رقم واوراوه
- اوټول قوم یی هم دقیصی د درد څخه سخت خوند واخیست
- پای

2. داچی زموږ کتابونه الحمدلله په داسی دور کی هم پوره 25000مینوال لری

- زیات خوشحال یم تاسی او دخپلو زړو مینوالو نه زیاته مننه چی زه مو همایه کړم او زما تر شا ودریدی
- درنځور خامار دناول قیصه دډیرو ورونو خویندو
- دقوی فکر نتیجه ده
- دا تا سی ته دا درخایی چی دنیا بیا هم ختمیدای شی
- که خدای تعالی یی وغواړی خو دا یوه افسانوی او خیالی قیصه ده
- ولی چی موږ ته قران دقیامت وینا کړی پیغمبر ص هم دقیامت وینا کړی نو ځکه دا قیصه هیڅ دریښتیا اړخ نلری خو خو قیصه یی

(c) ketabton.com: The Digital Library



- زړه راښکونکی او خوندوره ده
- دا داسی یوه قیصه ده چی داسی قیصه تر اوسه یو لیکوال هم نده راخیستی
- اونه به یی هم راواخلی
- رنځور خامار ته ځکه رنځور خامار نوم ورکړل شوی چی انتخای لکه دخامار ضرورور یی خو بیا هم رنځور وی او هیڅ دوسی نهنه وی پوره

# که چیری دکتاب په کوم اړخ کی مشکل وی ماسره په لاندی شماره رابطه کولای شی 0731363201 واتساپ

(c) ketabton.com: The Digital Library




# https://chat.whatsapp.com/KwBk2N7x2EzKdT3L9ENDu9

# دښکلو کتابونو لوستلو لپاره سادات کتابتون سره زانونه ایډ کړی

(c) ketabton.com: The Digital Library





(c) ketabton.com: The Digital Library



**سیدادریس سادات**

**دکتاب له پانئ څخه**

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**